پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۱۹/۰۱/۱۳

# سیمه ییز اقتصاد، اړتیا
# او له دې پلوه په سیمه کې دافغانستان دریځ

*« ...اوس افغانستان دمنځنی آسیا او جنوبی اسیا یوه مهمه برخه گرځیدلی او هیڅوک یې له اهمیت څخه سترگی نشی پټولای... دوکتورمحمد اشرف غنی»*

## سریزه

انسانان څه په فردي ډول او څه هم په ټولنیزډول یوبل سره راز راز روابط لري. دغه روابط دتاریخ په اوږدوکي پیچلی او هراړخیز شوي دي، له بلي خوا دټولنو، هیوادونو، سیمو او مناطقو ترمنځ اقتصادی معاملات، راکړې - ورکړې، کلتوری اړیکي، حقوقی اړیکي اویوبل سره تگ - راتگ هم په عرف کې اوهم په مدونوقوانینو او اصولو کې منل شوي دي. په تیره بیا اقتصادی مناسبات او دمناطقو او سیمو ترمنځ تولید، دخدماتو دعرضی او داقتصادی پوتانسیلونو توپیر منطقوی ټرلتیا رامنځته کړی ده. کله چې د اړتیاوو له مخې دغه ډول تړلتیا رامنځته شی، دې ته سیمه ییز اقتصاد ویل کیږی. سیمه ییز اقتصاد داقتصاد د علم یوه څانگه ده چې دیواقتصاد جغرافیایي جوړښت تر څیړنې لاندې نیسي. په تیره بیا په سیمه کې ترانسپورت، دصنعتي موقعیتونو امکانات، اقتصادی پوتانسیلونه، د سیمې نسبی مزیتونه، منطقوی تحلیل او د صنایعو ځای پرځای کول (Industrial location)، سیمه ییزه پرمختیا، دتولید په داخلی مقیاس سپما، ښاري کیدنه (urbanization)، مهاجرتونه (Migrations) او د ځمکي څخه بنه گټه اخیستنه څیړي. یوه ځانگړی اقتصادی منطقه هغه ټاکلی بُعد یا دځمکي یا اوبو(سمندر) یوه په مقیاس سره په نبنه شوي ساحه ده چې د فزیکي،انساني، اداری او وظیفوي مشخصاتو پر بنیاد سره بیلیږي. د دې ډول منطقي په فزیکي مشخصاتو کې یو شمیر فزیکی شاخصونه لکه ځنگلونه، هواري سطحې، منرالي سرچینې، دمناقلاتو لپاره دلارو امکانات او اقلیمي فکتورونه شامل دي. حال دا چې په انساني مشخصاتو کې، دسیمی د کار ځواک مهارتونه، تجربه، تاریخي، توریستي او مذهبي ارزښتونه او ځانگړتیاوی مطالعه کیږي. په وظیفوي مشخصاتو کې دکاروبار جریانات ،لوایح او مقررات، میډیا اوداسي نور فکتورونه په پام کې وي. د ذکر شویو مشخصاتو او د اقتصادی پوتانسیلونو له مخې هره منطقه بیله بیله ځانگړنه لري، نو دهری منطقي اقتصادي او منطقه یی پرابلمونه هم سره توپیر لري، نو له همدې امله منطقه یی اقتصاد ته اړتیا پیښیږی، چې د نوموړي علم څخه په گټه اخیستني سره دهرې منطقي لپاره پلان جوړاو داسي نورې اړیني کړنې ترسره شي. د منطقه یی اقتصاد د ودې او پالیسی جوړولو موضوعات معمولاً د اقتصادی اغیزمنتوب او د اقتصادی او ټولنیزی برابری له مخې تر کتنې لاندې نیول کیږی. په منطقه یی پالیسی جوړونه کې د اغیزمنتوب (موثریت) هدف مهم رول لری. له نیکه مرغه اوسنی وخت کې دافغانستان

سیمه ییز دریځ له دي پلوه پوره پیاوړی شوی دی. د وچي پنځه بندرونه، د چابهار دبندر فعالیدل، په سیمه کي د یوي لار یو کمربند لویه پروژه او د لاجوردو دپروژي پرانیتسل کیدل ډیر نیک زیری دی. دلته به په همدي موضوع رڼا واچول شی.

## سیمه ییز اقتصاد یعنی څه ؟

سیمه ییز اقتصاد هغه علم دی چي د فضايي بُعد Spatial Dispersion او داقتصادی فعالیتونوEconomic Activities اړیکي تحلیل او مطالعه کوي او دسیمي داوسیدونکو داقتصاد دېنه والی لاربنود نه کوي.
یا: سیمه ییز اقتصاد داقتصاد دعلم یوه څانګه ده چي په یوه څانګړي منطقه کي دمربوطه سیمي د اوسیدونکو اقتصادی مسایل او ددوی ترمنځ اقتصادی اړیکی او راکړي- ورکړي او په مناطقو کي دتصدیو تاسیس څیړي. دهمدي ضرورت له مخي سیمه ییز اقتصادی سازمانونه، سیمه ییز بانکونه، سیمه ییز بازارونه، سیمه ییز یامنطقوی ترانزیت او ترانسپورت او داسي نور مسایل رامنځته شوي دی. ددغي څانګي په مطالعي سره هره منطقه خپل اقتصادی مزیت، رجحانات او دریځونه ټاکي او داقتصادی قوانینو له مخي دخپل مفاد اعظمی کولو او د اجناسو او خدماتو په مبادله لاس پوري کوي. دسیمه ییز اقتصاد له مخي، یوه څانګړی سیمه او حوزه په ډیر ښه ډول سره خپل نسبی مزیت سنجوی او دهغي له مخي یوي بلي سیمي، منطقي یاحوزي سره دتبادلي انډول تامینوي. دمناطقو جغرافیاوي خصوصیات او دکار څواک اندازه او مهارت، طبیعی او اقلیمی شرایط اومنابع، د ترانسپورت سهولتونه او نور عوامل د دي لامل کیږي چي د مناطقو او سیمو ترمنځ د پوتانسیل او ظرفیت له مخي ژور توپیر رامنځته شي. د دي موضوع د اهمیت له مخي دسیمه ییزو مطالعاتو مراکز او منطقوي سازمانونه رامنځته شوي دي. د آسیا په هغه برخه کي چي زمونږ هیواد، افغانستان موقعیت لري،هم دغه موضوع صدق کوي. دغه سیمه د خپلو طبیعی اوجغرافیاوي څانګړتیاوو له مخي یوخاص دریځ لري. افغانستان د جنوبی آسیا اومرکزی آسیا وصلوونکی نقطه ده، له ډیرو پخوا وختونو څخه افغانستان او د افغانستان تجارتی مسیر دسیمي هیوادونو ته ډیر اهمیت درلود. په لرغونو وختونو کي د وریښمو سوداګریزه لاره له افغانستان څخه تیریدله او لرغونی آریانا د تمدنونو زانګو، د کاروانسرایونو او تجارتی بهیرونو څلورلاري او د کلتوری او مذهبی مراکزو ټاټوبی و. اوسنی وخت کي افغانستان ته د آسیا دزړه (Heart of Asia) په توګه کتل کیږي. اوس په سیمه کي SAARC ،SCO،ECO او داسي نور سیمه ییز(منطقه یی) سازمانو رامنځته شوی چي افغانستان د هغو غړیتوب لري. د دغو سازمانو یوهدف یا اساسي هدف اقتصادي روابط او تجارت دی. نن ورځ په پراخه کچه د Eru- Asia منطقي څخه خبري کیږي. چي په دې کي هم د افغانستان موقعیت او دریځ ډیر مهم دی. له دي پرته اوس افغانستان په WTO کي غړیتوب ترلاسه کړي دی. په دغه سازمان کي به زمونږ د هیواد غړیتوب هغه وخت ډیر ګټور وي چي له منطقوی پلوه خپل نسبی او مطلق مزیت وپیژنو او په منطقه کي د یوفعال شریک په توګه یوه سنجول شوي پالیسی ولرو. د دغي پالیسي موخه باید په همدغه څانګړی جغرافیاوي سیمه کي د اقتصادي کړنو رونق اوزیاتول وي. دي ډول سیاست ته Regional policy ویل کیږي. ډ یره پرڅای وه چي د افغانستان ولسمشر په خپله یوه وینا کی،د ګاونډیو هیوادو مشرانو ته ویلی و:
(...راځئ چي خپله سیمه د تروریزم او مخدروه موادو د تولید له سیمی د تجارت اوتمدن په څلور لارې بدله کړو...)
په عمومي ډول د منطقوي پالیسي موخي په بیلابیلو سطحو اولیولونو شرح کولای شو. په لوړه کچه (د نړی مختلفو منطقوکی)، په متوسطه کچه (د براعظمونو او هیوادوترمنځ) او په محلی کچه (د هیواد د ننه ولایاتو کی). د ټولو موخي له عمومي پالیسیو سره یو ډول دي، لکه په وده، ګټي، برابري، ثبات، د ژوند څرنګوالی او مدنی چارو کي برخه اخیستنه. له دي ټولوسره د برابري او مناسبي پالیسي لاربنوونه کیږي دا ډېره پراخه او ډېره عمومي ده. په نتیجه کي دا په زره پوري ده چي د فرعي موخوشمیره مشخصه شي، کومي چي له فضایي پالیسیو سره نیغي اړیکي لري. دا داسي مطالب لري لکه د محل کفایت، د سیمو ترمنځ د سړي سر عواید (PCI)، چي د ملي او عمومي خدماتو اغیزمنتوب ښکاره کوی. په دي کي فرعی معیارونه هم شامل دي . په عمومي پالیسیو کي د یوي سیمی ټول وګړی شاملیږی، دي ته پاملرنه نه کیږي چي هغوی چیرته هستوګنه لري،

په دي کي د سيمو ترمنځ د نقل مکان (مهاجرتونو) د اندازې ستونزه هم حل کيږي. د کارګرانو کمبود هم حل کيږي. د ذخيري او غوښتني موجوده اجتماعي پانګي ارزونه کيږی او موثريت يي زياتيږي، د محيط پاکوالی د ټولو لپاره او نور. په همدې ډول دا فرعي اهداف نور هم دمشخصو اهدافو لپاره ارزښتمند کيږي، لکه د سيمو ترمنځ د عوايدو د نابرابري کميدل، له محلی سرچينو څخه ډيره ښه استفاده او نور مسايل. دا د وخت په تېاکلی دوره کي راځي. يا د انعطاف وړ موخي لکه د محل په تصديو او د اقتصادی فعاليتونو په شميرکي نور زياتوالی، مثلاً، د استخدام د کچي لوړول، يادسري سر عوايد. د سيمه ييز اقتصاد او منطقه يی پاليسيو په بحث کي د هيوادونو اوسيمو روابط، جغرافياوي ځانګړتياوې، اقتصادي ريزرفونه، د خلکو کلتور پيژندنه او د ترانزيت د مسايلو مطالعه هم شامله ده.

سيمه ييز اقتصاد لکه له نوم څخه يي چي ښکاري، د سيمو او مناطقو په حدودو کي اقتصادي مسايل څيړي. په دي توګه له اقتصاد څخه پرته د مناطقو جغرافياوي خصوصيات، د مناطقو پيداوار، خلک، اقليم، اړتياوی، سرچيني او نور هغه عوامل چي په اقتصاد کي مهم دي، را اخلی او پکي شامل دي.

## منطقوي تحليل Locational Analysis او سيمه ييز اقتصاد

منطقوي تحليل په اصل کي د منطقوي اقتصاد مرکزي پوښتنه ده. د وان تونن "von thunen"، ويبر "Weber"، لوسچ "Losch"، کريسټالر "Cristaller" او نورو د پخوانيو څيرنو په اساس ، سيمه ييز تحليل د هغو تيوريکي مشارکتونو او تجربوي څيرنو د موثري لړی په انکشاف کي خورا بريالیتوبونه ترلاسه کړل ، ددي لپاره چي هغو پوښتنو ته کافي ځوابونه ووايي چي په يو ورکړل شوي فضايي سيستم کي ځانګړي فضايي فعاليتونه چيري او ولي واقع کيږي ؟ نو ، د سيمه ييز اقتصاد په مطالعه کي منطقه يی تحليل مهم دی. په دې مضمون کي کيدلای سي چي د تحليل مختلف روشونه متمايز شي :

لومړی بايد د يوې ساحي په مفهوم او د فضا په عنصر باندي غور او دقت وشي، د غبرګونونو يادونه وشي "د فعاليت، يو نواختي، تجانس يا د اداري اصولو په اساس" او داسي نور ټکی بايد روښانه شی.

په دي وروستيو کلونو کي په فضايي سيستمونو باندي د رسمي روشونو لوري ته علاقه زياته شوه. "د بيلګي په ډول، د ملتونو په واسطه دسيستمونو له تيوري څخه استفاده، منطقه يی مجموعي تيوري، توپولوژي او نور".

د تل په شان، زياتره انتزاعي مشارکتونه د اندازه ګيري له تيوري څخه په پراخي استفادي سره جوړ شويدي او کيدلای شي چي په دوو موازي سيستمونو کي د يوې مشابه لاري په توګه مشاهده شي. "لکه بيولوژي او ارواپوهنه" نو سيمه ييز اقتصاد او جغرافيه، سيمه ييز اقتصاد او حقوق، سيمه ييز اقتصاد او د طبيعی منابعو پيژندنه همدومره يوبل سره نژدې دي.

دويم داچي د کاروباريانو (تشبث کوونکو) او کورنيو سيمه ييز تصميمونه بايد په نظر کي ونيول سي. تشبثي تصميمونه د مغلق صنعتي تحليل، دودې د مرکز د تحليل، د ثقل او آنتروپي ډيناميک سيستمونو د څيړني او تحليل په عملياتي چوکاټ کي اجرا او عملی کيږي.

کله چي د يوه نظري بنسټ له مخي د عملياتي ګټورتوب د موډلونو د وسايلو په واسطه د هستوګني د سيمو ستونزي د مفيدوالی له نظره څيړل کيږي، نودعامه هستوګنځايونو ستونزي هم د يوې متحدې فضا يا شبکي له نظره تر څيړني لاندي نيول کيږي.

علاوه پردې، وروستی منطقه يی تحليل په زياتيدونکي ډول د انتخاب په تفصيلي موډلونو باندي استواري دي. "لکه لوګارتيمي او احتمالاتي موډلونه". دغه موډلونه هغه زيات سنجول شوي تحليل ته ارزښت وربښي، چي کيدلای شي مختلف منطقه يی-فردي ټاکونکي عوامل "د کيفي فکتوروونو په شمول" په نظر کي ونيول شي. وروسته، د تشبث کوونکو او کورنيو مشترک تصميمونه د يو فضايي اقتصادي تعادل په موجوديت باندي موافقه کوي.

د کم موندل کيدونکو سرچينو او د هغوی د فضايي موقعيتونو تخصيص، په عمومی ډول يوه مغلقه ستونزه ده چي کيدلای شي مختلفو تعويضي امکاناتو ته شامله شي، په داسي ډول سره چي کيدلای شي د يوه پيچلي تجارت پوښتني هم راولاړې کړي.

وروستي مشکل هم په هغه صورت کي خورا شدید دی چي "Spatio" بُعد اوزماني ډینامیک کوم چي د جوړښتي تغییراتو په واسطه منځته راځي، په نظر کي ونیول سي.

دلته باید دغیر خطي ډینامیک پروسو وقوع په ځانګړي ډول په نظر کي ونیول سي. کیدلای سي چي دغه پدیده په یو څو بُعدي ډینامیک اقتصادي سیستم کي غیر متوقع ناوړه نتایج رامنځته کړي. د دې د معقوله نتیجی لپاره پوره تحلیل او دقت ته اړتیاده.

## منطقوی اقتصاد او سوداګري

سوداګري او تجارت له یوې سیمي بلي ته د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د اجناسو اوخدماتو لیږدول او عرضه کول دی. یعنی د اجناسو اوخدماتو تبادله کول تجارت دی. دغه تبادله د سیمو اومنطقو ترمنځ صورت نیسی، نو کله چي د منطقو خبره راځي، خامخا منطقه یی اقتصاد ورسره علاقه لري. د منطقو ترمنځ د تجارت لپاره د ضرورت مهم لاملونه دادي:

### ❖ لومړی) په زیاته اندازه تولید:

ممکن یوه منطقه یاسیمه دځانګړی ظرفیت اوغوره امکاناتو له امله دیو شمیر اجناسو په تولید اویاهم دیو شمیر خدماتو په عرضه کي غوره توب ولري، دوی خپل اضافی تولید دنورو سیمو داړتیا وو دپوره کولو لپاره چي دغه ډول ظرفیت او وړتیا نه لري، ور استوي په دې توګه تجارت داجناسو تبادله بلل کیږي.

### ❖ دوهم) طبیعی منابع:

سیمي اومنطقي دخپلو شتمنیو او اقلیم له پلوه یوبل سره توپیر لري. د دغو شتمنیو څخه اضافه ترلاسه شوي تولید هغو سیمو اومنطقوته ورکول کیږي چي دغه ډول شتمنی نه لري. د بیلګي په توګه د خلیج د منطقي هیوادونه کافی اندازه نفت لری، دوی خپل نفت نوروتولو هیوادونو ته صادروي چي کافی نفت نه لري. دغي سیمي ته د نفتو د تولید ساحه،منطقه، حوزه یاسیمه ویل کیږي. همداسي هم د نړی بیلابیلو برخو اوځیني وخت د یوه هیواد د ننه ، یوشمیر ځانګړی مناطق د یوه ځانګړی صفت یابل اقتصادی فعالیت لپاره جلاشوي وي.

### ❖ دریېم) په لګښتونو کي توپیر:

که چیری د یوې سیمي او منطقي ( د یوه هیواد دننه یا د څو هیوادونو په شمول) ترمنځ د اجناسو او خدماتو د تولید په لګښت کي توپیر ولیدل شي، نو د ټیټ لګښت لرونکي منطقه ځان دسیمي په سوداګری کی داخلوي.

د لمری برخی پای

نور بیا

## یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی ددی لیکوال نوری لیکنی هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

سیمه ییز اقتصاد، اړتیا او په سیمه کي دافغانستان دریځ (۱)
Dodiaal_m_bashir_simayz_eqtesaad_altia_۱.docx